AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دودیال

۲۰۲۴/۰۲/۲۳

# په فولکلور کې د میرزمانخان د غزواتو یادونه

میرزمانخان، د غازی امان الله خان دغه ریښتینی او ژمن دوست، د استقلال دبیرته ترلاسه کولو جګړه کې (دڅلورمې جبهې د قوماندان) په توګه یاد شوی دی. دا ځکه چې؛ د استقلال د بیرته ترلاسه کولو لپاره کندهار، پکتیا او مشرقی پورې درې جبهې تاکل شوې وې.

د اروابناد عطایی، اروابنادغبار او کهزاد لیکنوکې د ختیځ جبهه له کمکی خیبر، ډکې، بریکوټ ، ګله پیچ او کاوتې او بیا په مجموع کې چترال او د هغو څېرمه سیمې وې، د دې شرح موږ ته یو څه نیمګړی ښکاري، خو د جنګ کرښه له لنډې کوتل هم اووښته او تر پېښور رسیده. د انګریز لښکرکې ډیر پنجابی ګورکه اجیر سرتیری هم جنګېدل. افغانان چې څومره تاړاکګر انګریز ته په غوسه وو، همدومره پنجابی ګورکه وو ته په غوسه وو. ځینی وخت یې هغوی ته (انګریزسیکهان) ویل . دهغه وخت د روایاتو له مخې؛ د جګړې د سختو شیبو په ترڅ کې د ختیځ کې د جګړې د کرښې دماتیدو ویره څرګنده شوه. دا وخت له انګریزي استعمار سره څلورمه جبهه دولسي ننګیالو له خوا پرانیستل شوه او فتح هم شوه. د دې اتلولی مخکښ میرزمانخان و. هغه په سیمه کې د یوه مخورپه حیث له خپل رسوخ کار واخیست اود جګړې صفونو ته یې دسیمی ننګیالی چمتو کړل. په تیره بیا د ۱۹۱۹ کال د می دمیاشتی لومړی نیمایی برخلیک جوړوونکی ورځې وې. د بریګیډ بالدوین د مجهز لښکر او د هغوی د هوایی ملاتړ سره سره انګریز ونشو کولای چې دلته پرمختګ وکړي، نوځکه انګریز خپل یو بل له نظامی پلوه د لوړې رتبی او د جنګی تجربی له پلوه پوخ قوماندان جنرال فاولر هم دغی جبهی ته مارش کړ. د می ۱۴مه د جګړې ترټولو سخته ورځ وه. له مرکز (کابل) څخه دافغانی اردو لپاره د ټاکل شوی قوماندان اراده ضعیفه شوی وه، منظم پوځ او د سوق او ادارې ترمنځ اړیکه شلیدلی وه، خو افغانی باتورو سر تیرو او ولسي لښکر لا هم مقاومت کاو. پورته په ارکان کی ستونزه وه، خوصفونو په میړانه جګړه کوله، همدا وخت د میرزمانخان ولسی لښکر مرستې ته ودانګل. د دغی پیښې جریان په مختلفو بڼو راغلی او ډیر تکرار شوی دی، خو مهمه دا وه چې باید ملاتړی ځواک ډګر ته داخل شوی وای، باید د غازی امان الله خان پت او عزت او د استقلال د داعیې ننګه دسرونو په نذرانه ساتلی شوی وای. همدا مهال غازی میرزمانخان د شرقی جبهی سپر او ډال شو.



*غازی امان الله خان او میرزمانخان کونړی*



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د می د میاشتې ۱۶مه لا د اتلولی او قربانیو ورځ وه. په کونړ ، ننګرهار او لغمان کې ولسی لښکر د میرسید پاچا، غازی میرزمانخان، د اسلامپور پاچا صیب، د چکنور ملا صیب او سید احمد تر لارښوونې لاندې پر مخ ولاړل او د می تر ۱۸مې یې راقمونه فتح کړل. له همدې ورځې وروسته د جګړې راتلونکی وضعیت د افغانی لښکر د بری شاهدی ورکړه.
ځینې وګړي د فکر او تدبیر او ځینی نور بیا دعمل او مندو- ترړو اتلان وي. غازی میرزمان خان په دواړو ډګرونو کې مخکښ و. د هغه هیڅ تدبیر خام نه و او همدومره هم عملګرا شخص و. د ده اتلولی دهغه وخت یو ولسی شاعر شاعر (تورطالب) د دغې جګړې پرمهال دغه چاربیته ویلې ده:

غزا د ارناوی وه
د شنو توپو ږلی وه
ساپي پرې رژېدل لکه ګلونه د نمېر
ټول وو له سره تېر
***
غزاوه په کفارو
غوړ ښه کېږدئ هوښیارو
د ټول ساپي سالار و د کونړ میرزمان خان
جبین یې و روښان
***
جبین یې د نرګس و
بدن یې د طاوس و
ورپسې تمام ولس و هر غازي لکه پتنګ و
اسلام د کفر جنګ و
***
اوه کسه بادران شو
جنت له ځي روان شو
جنت له ځي ر وان شو حورې تلې ورنه چاپېر
ټول وو له سره تېر
***
جنت کې یې دېرې شوې
د ګلو منجرې شوې
له قار یې سترګې سرې شوې حیدر وویل لاړئ چېرته
ساپو ورځئ پرې ببرته
***
وباسئ پسې تورې
پیالې ګرځوي حورې
ځان مړ کړه که تربور یې چې لاړ نه شې له میدانه
ښکاره دې کړه مېرانه
***
ښکاره زلمي د جنګ شو
ستانه ببرته په ننګ شو
په سرو وینو کې رنګ شو ارناوی د دوی سولی وه
د شنو توپو ږلی وه
***
حیدر چاړه په لاس
ورستون شو په اخلاص
وهل به یې کوز او پاس په کفر ګډ و لکه شېر
ټول وو له سره تېر
***
دی شېر یې وکړه توره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مور مه شه په ده بوره
بدن يې ډک له نوره افرين شه په قتلان
مردار يې کړل سګان
***
مورچل کې شهسوار و
جنت ته اميدوار و
ملګری يې سردار و له ګولو ډکه ځولی وه
د شنو توپو ږلی وه
***
خزان راغی په ګلو
شور ګډ شو په بلبلو
جنت د هغو خپل و چې تمام يې کړه پرې سير
ټول وو له سره تېر
***
جنت شه ترې قربان
ورځې مير اعظم خان
ورځې مير اعظم خان لايق د حورو دی ګل مست
د خدای په مينه مست
***
د خدای په مينه سپر شو
په ځمکه باندې زېر شو
جمروز د خلکو هېر شو په کفارو يې حمله کړه
ترې غوځه بې کله کړه
***
ترې غوځې يې مرئ کړې
کفارو به زارئ کړې
بختيار پسې خوارئ کړې د بير مخکې لولی وه
د شنو توپو ږلی وه
***
د تور طالب بيان
ښکاره په درست جهان
بادر ميرزمان خان لره به ورکړي عزت ډېر
ټول وو له سره تېر

ويل کيږی چې د ارناوئ جګړه، يوه ډېره سخته جګړه وه. پورته ولسی شعر زموږ د نورو فولکلوريکو ژانرونو(لنډيو، چاربيتو، ولسی نکلونو او متلونو) په رديف کې ځکه ځای لري، چې ويونکی يې يو ولسي شاعر او د ولسی خلکو له خولې تر موږ پورې رارسيدلی دی. زموږ فولکور د نورو اړخونو ترڅنګ، دحماسو د منځپانګې لرونکی هم دی. تاريخ ليکوال حق لري چې له هغو څخه داخځ په توګه کار واخلی.

اخځ:


۱.عطايی. محمد ابراهيم.(۱۳۷۴)، د افغانستان لنډ تاريخ، سبا ميوند خپرندويه ټولنه: پېښور.
۲.غبار، ميرغلام محمد.(۱۳۴۶)، افغانستان درمسير تاريخ، لومړی ټوک، دولتی مطبعه : کابل- افغانستان.
۳. ... وطن ادب( وييپانه)، د افغانستان د معاصرو ادبياتو دايرة المعارف.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ